واحد فقيري ٢٠١٩/٠١/٠١

رابرټ کپلان: افغانستان د امریکا شپږمه ګوته ده، باید پرې سي

د امریکا مشهور سیاسي مبصر او لیکوال، رابرټ کپلان، د جنوري پر اوله په نیویارک ټایمز کي لیکي امریکا د افغانستان پر ماموریت باندي دونه زیات مصرف کوي چي ښايي یوازي د امریکا له ستراتیژیکي حریفانو سره کومک وکړي.

کپلان لیکي: د ښاغلی ترمپ دا فیصله چي ښايي تر بل دوبي پوري به ۷۰۰۰ امریکايي عسکر راوباسي، د ټرمپ د سیاسي روش او پالیسیو په اره ئې اندېښني راپورته کړي دي. اما په افغانستان کي د امریکا د ماموریت راکمول اجتناب ناپذیره دئ. واقعاً، له افغانستانه د امریکايي عسکرو د پای پاکه رااېستلو وخت راسپدلی دئ.

په جهان کي بل هيڅ ملک د امریکا د امپراتورۍ زوال داسي ښه نه تمثیلوي، لکه افغانستان. ځکه د طالبانو پر خلاف د نظامي بري هیڅ امکان نسته، او د دې امکان هم نسته چي هلته یوه ټپانده دیموکراسي تر شا پرېښودو. البته، دا هغه واقعیتونه دي چي په واشنګټن کي ناست پالیسي جوړونکي ئې له منلو څخه انکار کوي.

که څه هم په افغانستان کي اکثره امریکايي عسکر د سیمتي دیوالونو تر شا پټ ناست وي، او له هغو خلګو څخه ځان ساتي چي دوی ئې د کومک کولو ادعا کوي. خو دا د حیرت خبره ده چي د واشنګټن په سیاسي محافلو او امریکايي میډیا کي د افغانستان په اړه خورا لږ بحث کېږي. په بل عبارت، کله چي خبره د افغانستان کېږي، واشنګټن هغه ښار سي چي د شرم او ناامیدۍ د جګي کلا په دیوالونو کي ځان پټ وي.

په داسي حال کي چي چین، پاکستان، هند، او ایران په خپلو هیوادونو او افغانستان کي د انرژۍ او کانونو د رااېستلو لپاره رقابت کوي، داسي ښکاري چي متحده ایالات په افغانستان کي هیڅ اقتصادي مستقبل نه لري. حال دا چي امریکا په افغانستان کي هر کال ۴۵ ملیارده ډالره مصرفوي. د براون پوهنتون په حواله د جنګ نهايي لګښت به دوو تریلیون ډالرو ته ورسېږي. دا ټول مصارف د یوه داسي لړزانه حکومت د ساتلو لپاره کېږي چي په اغلب ګومان به هله سره وشړېږي چي زموږ کومک باندي قطع سي.

واقعیت دا دئ چي افغانستان د تاریخ د جبر او د هغو قوتونو د کامیابی نمانده ګي کوي چي جغرافیې، تاریخ، کلتور، او فرقوي مناسباتو سره راغونډ کړي دي. پدې جغرافیه کي پښتون، تاجیک، ازبک، هزاره، او نور اقوام مدام په سیالي او کشمکش کي دي. جنګسالاران او مافیايي شبکې د افغانستان د مخدره موادو پر تجارت او لارو باندي تسلط لري. د سیمي یو انګریز متخصص کاږي،«دا چي په افغانستان کي د امریکا پیسې غلا کېږي، دا د دې مانا نه لري چي همدا روپۍ ضایع سوي دي،» بلکي همدا پیسې پر هغو محلي زورواکانو باندي تقسیم سوي دي چي یا ئې د طالبانو سره د یو ځای کېدو مخه نیولې ده،او ئې د جنګسالارانو خپلمنځي اخ و ډب رااېسار کړی دئ.

البته، که چیري امریکا د عراق جنګ نه وای شروع کړی، (له کوم جنګه چي ما په غلطه حمایت کاوه)، ښايي د افغانستان حالات او سکتوري نفاق راکنترول سوی وای. د احمد رشید په قول، په افغانستان کي امریکا پر انتخاباتو باندي زیات اصرار کاوه، خو د کارونو پر خلقولو، د وړو نسونو پر مرولو، او د دولتي د موسساتو پر جوړولو باندي ئې په کافي اندازه اصرار نه کاوه. په تېره بیا د داسي زیر بنایي او زراعتي پروژو پر تکمیلولو باندي چي په افغانستان کي په ۱۹۵۰ کي پیل سوي وې، او د شوروي تر اشغاله پوري ئې دوام لاره.

مسلمه خبره دا ده چي هيڅ وخت باید ناامیده نه سو، خو په افغانستان کي زموږ حالت خراب دئ. طالبان په زیاتېدونکي توګه مخ پر وړاندي په حرکت کي دي. که چیري د سولي مذاکرات کامیابه سي، هغوی به حتما د امریکا په زور د اشرف غني د نصب سوي حکومت سره قدرت شریک کړي. که چیري دا کار و نه سي، هغوی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيز بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځیر و لولئ

به پخپل زور حکومت ونيسي. زلمي خليلزاد هڅه کوي چي يو داسي ډيلوماتيک حل پيدا کړي چي هم متحده اياﻻتو ته د قواوو د راکمولو فرصت برابر کړي، او هم دا تضمين کړي چي کابل سمدستي سقوط و نه کړي.

همدا وجه ده چي امريکا په افغانستان کي زيات مصارف قبولوي. د امريکا د دفاع وزارت له دي څخه وهم لري چي يو ځل بيا د ويتنام کانه تکرار نه سي، مانا مخالفان پر کابل باندي په داسي وخت کي هجوم راوړي چي امريکايي عسکر له افغانستانه د وتلو په حالت کي وي. د امريکا فوج د ويتنام له شرمه هله ځان خلاص کړ چي د عراق (۱۹۹۱) په جنګ کي ئي برى ترﻻسه کړ. که چيري امريکا له افغانستان ناڅاپه راووځي، دا خبره به د امريکا د جهاني طاقت د زوال يوه بله بېلګه وي.

بله انديښنه دا ده که چيري يو کرت بيا په افغانستان کي هرج و مرج او لګه درګه جوړه سي، د ترورستي ډلو لپاره به بيا د ټيک يو ډاډه ځای سي. همدا انديښنه دا ثابتوي چي موږ په افغانستان کي د بدو عواقبو له ډاره پاته يو، نه دا چي موږ د ښو نتايجو په تمه يو. داسي برېښي چي واشنګټن پدې هيله ناست دئ چي خليلزاد به د يو موقتي وخت لپاره د ثبات څو شيبې کمايي کړي.

خو په عين زمان کي په افغانستان کي د امريکا له نظامي عملياتو څخه ښايي چين، پاکستان، روسيه، هند، او ايران زيات مستفيد سي، نسبت امريکا ته. په افغانستان کي زموږ نظامي حضور هغوی ته يو داسي امنيتي فضا برابروي چي هغوی خپل د انرژي دهليزونه جوړ کړي، او په عين وخت کي روسيي ته د دي چانس په ﻻس ورکوي چي د اسﻼمي تروريزم په مقابل کي خپل جنوبي سرحدات وساتي. نو لهذا، زموږ حريفان زموږ په زوال کي خپلي امپراتورۍ جوړوي.

ځيني خلک ښايي دا استدﻻل وکړي چي په کابل کي د امريکا په زور د نصب سوي حکومت سقوط به زموږ رقيبانو ته په هغه هيواد کي د پښو د ټينګولو ځای ور کړي، خو هله به د افغانستان جنجال د هغوی د غاړي سي.

بل پلو، يو قابل امريکايي ديلومات، چي د امريکا منظم او منسجم حمايت ور سره وي، ښايي پدې واتونېږي چي د افغانستان د سولي لپاره يو داسي بين المللي او سيمه ايز کانفرانس جوړ کړي چي هدف او نتيجه ئي په افغانستان کي د ترورستي ډلو لپاره د امن د ځايونو ختمولو وي. دا يوه داسي ډيلوماتيکه پروژه ده چي ښايي هنري کيسنجر، ريچارډ هولبروک، جمېز بېکر، او جورج شولتس په حرکت راوستلای وای. خو د ټرمپ له اداري څخه د دي کار تمه کول معقول کار نه دئ. ځکه د ټرمپ په حکومت کي هشت و مشت او بې کفايتي خورا زياته ده.

ايا په افغانستان کي د پاتيدو په برخه کي موږ افغان ملت ته کوم مسوليت لرو؟ نه. ځکه چي هغه ايډيال ته چي موږ متعهد يو، هغه نه حاصلېدونکی دئ. يوازي دا چي موږ هلته په مليارډونو ډالره مصرفوو،او په زرهاوو عسکر مو ساتلي دي، څو د يوې ګډوډۍ مخه ونيسو، دا په خپل ذات کي دومداره پاليسي نه سي کېدﻻی. موږ پدې پيسو په اسيا کي نوري ښې او مفيدي پروژې ابادوﻻی سو چي د چين سره اقتصادي رقابت وکړای سو.

مګر له افغانستانه زموږ وتل بايد يو دم او ناڅاپه نه وي. موږ بايد زلمي خليلزاد ته وخت ورکړو چي زموږ له ملګرو سره يو ډيلوماتيک چوکاټ جوړ کړي. او دا کار بايد داسي وکړو چي د خپلو قواوو د راوتلو تقسيم اوقات اعﻼم نه کړو، او خپل حريفان په لوی ﻻس پخپله قوي نه کړو چي موږ ته تګ انتظار وباسي.

راځئ چي سپيني خبري وکړو: افغانستان هغو سترو جنګي کښتيو ته ورته دئ چي موږ ئي په داسي وخت کي په جوړولو لګيا يو چي په زياتېدونکي توګه متروکه کېږي. ځکه موږ داسي عصري او پرمختللي توغندی لرو چي د دغو بېړيو د جوړولو کار عبث ثابتوي. افغانستان زموږ د امپراتورۍ شېرمه او بېکاره ګوته ده، او د پرې کېدو وخت ئي رارسېدلی دئ.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ